# إِذَا سَمِعْتُمُ الْمُؤَذِّنَ فَقُولُوا مِثْلَ مَا يَقُولُ، ثُمَّ صَلُّوا عَلَيَّ

له عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما څخه روايت دی چې هغه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي دي چې ويیل يې: «إِذَا سَمِعْتُمُ الْمُؤَذِّنَ فَقُولُوا مِثْلَ مَا يَقُولُ، ثُمَّ صَلُّوا عَلَيَّ، فَإِنَّهُ مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صَلَاةً صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ بِهَا عَشْرًا، ثُمَّ سَلُوا اللهَ لِيَ الْوَسِيلَةَ، فَإِنَّهَا مَنْزِلَةٌ فِي الْجَنَّةِ، لَا تَنْبَغِي إِلَّا لِعَبْدٍ مِنْ عِبَادِ اللهِ، وَأَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَنَا هُوَ، فَمَنْ سَأَلَ لِيَ الْوَسِيلَةَ حَلَّتْ لَهُ الشَّفَاعَةُ». «کله چې مو له اذان کوونکي څخه (د اذان الفاظ) واورېدل نو تاسو هم هغه څه وایئ چې هغه يې وايي، بيا پر ما درود ووایئ ، ځکه څوک چې پر ما درود ووايي، نو الله تعالی به پر هغه لس ځلې درود وايي، بيا ماته له الله جل جلاله څخه د وسيلې سوال وکړئ، چې هغه په جنت کې يو مقام دی، او د الله په بندګانو کې يوازې يو تن ته ورکول کيږي او له هغه پرته بل چاته نه ښايي، زه امېد لرم چې هغه به زه یم، او څوک چې زما لپاره وسیله وغواړي نو شفاعت به يې کيږي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم لارښوونه کوي چې چا د لمانځه لپاره له اذان کوونکي څخه د اذان الفاظ واورېدل نو وريسې دي همغه الفاظ تکرار کړي پرته له : حي على الصلاة، او : حي على الفلاح څخه، ځکه له هغوی وروسته به: لا حول ولا قوة الا بالله وايي، بيا به د اذان په پای کې په رسول الله صلى الله عليه وسلم درود ووايي، ځکه چې چا په رسول الله صلى الله عليه وسلم يو ځل درود ووايي، نو الله تعالی به پرې د هغه له امله لس ځلې درودونه ووايي، او د الله تعالی لخوا پر بنده باندې د درود ویيلو معنا: د ملايکو پر وړاندې د بنده ستاينه کول دي. بيا يې امر وکړ چې د هغه صلى الله عليه وسلم لپاره له الله تعالی څخه د وسيلې سوال وشي، چې هغه په جنت کې يو مقام دی او تر ټولو لوړ دی، چې د الله تعالی په ټولو بندګانو کې يوازې د يو بنده سره ښايي او ورته ورکول کيږي، او زه تمه لرم چې هغه زه اوسم، او رسول الله صلى الله عليه وسلم دا خبره د عاجز او تواضع له مخې کړې ده؛ ځکه چې کله هغه مقام يوازې د يو چا لپاره وي، نو هغه يو تن به لده صلى الله عليه وسلم پرته بل څوک نه وي، ځکه چې هغه د مخلوقاتو تر ټولو غوره دی. بيا هغه صلى الله عليه وسلم څرګنده کړه چې چا رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د وسيلې دعا وکړه نو هغه انسان ته د هغه صلى الله عليه وسلم شفاعت حاصل دی.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65087

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee